د ۱۳۵۲ لمریز کال
د تلې میاشت
اوومه ګڼه

پر له پسې ګڼه ۱۶۳

د تاسیس کال ۱۳۳۹

کندهار

اطلاعاتو و کلتور
میاشتنۍ خپرونه



د زینب په ښوونځي کې د جمهوریت په ویاړ د جشن د محفل یوه ګوښه



۱۳۵۴ کال د تلې میاشت

تاریخي مسئولیت

د افغانستان په سیاسي تاریخ کې د جمهوري رژیم په راتګ سره یو ستر بدلون منځ ته راغی چې د هغه اغیزې د هیواد په ټولو مؤسسو او ارګانو کښې له ورایه معلومیږي او د یوې رڼې او مترقي آیندې زیری ورکوي.

د ملتونو بیداري هغه وخت څرګندیږي چې خلک د خپل سرنوشت سره علاقه پیدا کړي. په [illegible] ژوند کې عموماً خلک د خپل چاپیر چاپیریال سره ځانګړې

علاقه نه لري او ددې کار علت دا دی چې شاهي ارستوکراتو فاسدو رژیمونو تل دا پالیسي تعقیب کړې ده چې خلک بې وسائل شي او د علم او فرهنګ څخه چې هر څونه لیرې وي په هغه اندازه د دوی د بقا شرایط مهیا وي.

دا ځکه فرسوده نظامونه تل دا هڅه کوي چې عوام یا نو ده باید سیاست سره اشنایي ونه لري او سیاست یا د یوې

ټولنې د سرنوشت ټاکل یوازې او یوازې د جامعې په اشرافي قشر پورې مربوط او منوط وي.

دغه سبب دی چې د یوې خوا خلک د خپل سرنوشت سره علاقه نه لري، ګوښه نشیني او شخصي آرامي یې د ژوند شعار ګرځیدلی وي. بلې خوا ارستوکراتانو

ته د سیاست بازۍ میدان خالي وي او د عیاشۍ ولولو ته میلان مومي، په نتیجه کې ټولنه ورځ په ورځ د فساد او بدبختۍ خوا ته سوقیږي او په ټولنه کې [illegible] خودسري او هرج و مرج منځ ته راځي چې د ټولنې خلک

تورن خپل سرنوشت د ټاکلو سره بې علاقې نه سي پاتې کیدلای حاکمیت غوښتونکي او ملي ایډیالونه دا ښکاره کوي ګر په ولس کې اخلي او د هیواد په چلو کې یو عظیم بدلون راو تما

کیږي. د دا سې بدلونو په څرګندیدو سره خلک په پوره ذوق او اشتیاق په خپلو ورسپارل شوو چارو کې برخه اخلي.

په افغانستان کې هم جمهوري رژیم چې د عامه او لس دارادې مظهر دی په عین شرایطو منځ ته راغی یعنې پخوانی شاهي منسوخ رژیم دومره منفور او فرسوده شوی ؤ چې

د یوې شېبې په موده کښې بالکل نیست او نابود شو او جمهوري رژیم د خلکو په بې ساري تاوده هرکلي د هغه ځای ونیوی چې حقې تر او سه لا هم د هیواد په کوټ کوټ کې د دغه

نظام په ویاړ د خلکو له خوا د خوښۍ محفلونه جوړیږي ددې محفلو څخه ښه تر اڅرګندیږي چې دا نظام یو واقعي ملي نظام دی چې د هیواد په سرنوشت کې یې عظیم تحول

راوستلی دی. دغه وجه ده چې خلک د پخوانۍ غفلت څخه راپیدار شوي دي او په پوره علاقه په دې ستر بدلون کښې برخه اخلي. خو بدبختانه ځینې داسې عناصر هم

سته چې د ټولنې د ملي جنبشو او نهضتو په مقابل کښې مدواقع کیږي او د خپلو ناوړه وګټو په اساس غواړي چې د ټولنې د حرکت مسیر بیرته د انحطاط لور ته رهنمايي

کړي. داسې کسان باید په دې خطیره مرحله کښې خپل تاریخي مسئولیت درک کړي چې د دوی ناوړه اعمال به تل تر تله د تاریخ په غیږ کې په (تور) خطونو

سي او دا ټلونکي نسلونه به په پوره بې غرضۍ د دوی د داشوم اعمال محاکمه کړي.

وس د هر افغان وظیفه ده چې د جمهوریت د ساتنې او بقا د پاره د سر په بیندلو هم دریغ ونه کړي او دداخلي

او خارجي ظالمانو لاسونه له دې ملکه لنډ کړي. څو د ګران هیواد د پرمختګ د پاره لاره هواره او تاریخي مسئولیت مو ادا سي.



د سرې میاشتې د مخصوصې هفتې د شروع په مناسبت

دافغانستان د جمهوري دولت د رئیس او صدر اعظم او دافغانی سرې میاشتې د ټولنې د ساتندوی ښاغلي محمد داؤد پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

گرانو وطنوالو:

خوښ یم چې د جمهوري دولت د نوي رژیم په رڼا کې د لومړي ځل لپاره فرصت مومم چې

د سرې میاشتې مخصوصه هفته چې د روژې د مبارکې میاشتې د ورځو سره سمون لري د بشري جامعې د محتاجو ډلو د هوساینې او ارامۍ په هیله پرانیزم او په دغه مناسبت د گرانو وطنوالو د نیکمرغۍ او سرلوړۍ او د گران هیواد د لوړتیا لپاره خپلې ښې هیلې څرگندوم.


گرانو خوندو او ورونو!

د سرې میاشتې د مخصوصې هفتې د لمانځنې مفکوره نه یوازې دا چې د دغه خیریه مرکز د چارو مسئولیت د هغې د انساني لوړو هدفونو ته گرځوي بلکه فرصت او زمینه برابروي چې زموږ خلک له یوې خوا د اسلامي لوړو تعلیماتو او بشري

عاطفې په پیروي د بې وزلو د لاس نیوې او په خیریه چارو کې تر پخوانه هم زیاته برخه واخلي. او له بلې خوا د سرې میاشتې او سره صلیبونو

د ملي او بین المللي اصولو په تعقیب او پیروۍ چې په بشریت پورې اړه لري او اتحاد خپل محتاج همنوع ته د داوطلبانه خدمتونو او گڼې مرستې

(پاته د پښتې په ۳۴ مخ کې)



دافغانستان لوی ملي زعیم د دولت رئیس او صدر اعظم ښاغلي محمد داؤد چې دافغانی سرې میاشتې د ټولنې په پراختیا کې یې د قدر وړ خدمتونه انجام کړي دي

د نجات ورځ

د میزان د میاشتې ۲۳ نیټه په تاریخ کې هغه نیکمرغه ورځ ده چې په دغه ورځ هیواد دوطنپرستانو په قیام د داخلي اغتشاش له تورتم څخه راووت. ددغه قیام رهبر د هیواد نامتو شخصیت اعلیحضرت غازي محمد نادر شاه شهید و.

څلور څلویښت کاله پخوا یا په بل عبارت د خپلواکۍ د بیرته اخستلو لس کاله وروسته په هیواد کې داغتشاش اور وبل شو. قتل او قتال، چور او چپاو، ظلم او استبداد اوج ته ورسیدی د علم او فرهنګ دروازې وتړل شوې او د هغه نهضت اساسات چې دمرحوم اعلیحضرت امان الله خان له خوا طرح شوي ده، محوه شوه. یو مطلق تورتم پر ټول هیواد حکمفرما شو.

دغه حالت پوره نهه میاشتې دوام وکړ. خو بالاخره دوطنپرستانو د اعلیحضرت غازي محمد نادر شاه په رهبري د اغتشاش فاسد او فتنه ګر عناصر له منځه یوړل او هیواد د ظلم او ستم څخه نجات وموند. د علم او فرهنګ دروازې خلاصې شوې او په بیلو بیلو ساحو کښې نوې انکشافات منځ ته راغلل. متأسفانه پخواني مخلوع رژیم هغه انکشافات ترسره نه کړل، علاوه تر هغه فاسد رژیم د سلطنت په وروستیو کلو کې د دولت په چارو کې پوره بې اعتنائي څرګندوله. له دې امله هیواد



مرحوم اعلیحضرت غازي محمد نادر شاه د هیواد د نجات دلاري مبارز

ورځ په ورځ د فلاکت لور ته رهي و. دغه وضع دوطندوستانو د پاره تحمل کیدونکې نه وه نو هغه و چې د سرطان په ۲۶ نیټه د وطن مینانو د ملي ستر رهبر ښاغلي محمد داود په قیادت هغه شوم حالت ته خاتمه ورکړه او جمهوري عالي نظام یې تأسیس کړ.

څرنګه چې دغه ټول ملي رژیم ته پرخاښو او فاسدو عناصرو باندې ساحه تنګوي، نو دغه فاسد عناصر تل د ملي مترقي رژیم د له منځه وړلو د پاره د خپل شخصي منفعت په اساس ډول ډول دسیسې طرح کوي. د ښه مرغه دا دی دسږ کال د میزان په میاشت کې د یوې شومې دسیسې څخه پرده پورته شوه چې غوښتل یې هیواد یو ځل بیا د قتل وقتال صحنه وګرځوي. په دې توګه د افغان نجیب اولس د اسارت له تورتمه بل نجات ترلاسه کړ. له دې کبله او ددغه ستر بریالیتوب په هکله افغان اولس ته د زړه له کومې مبارکي وایو او د ملي قهرمان ښاغلي محمد داود او د هغه د ملګرو د زیات بریالیتوب هیله کوو.

داعتراف نه تر انتحاره

دنړۍ په زیاتره هېوادو
کې وطن پالونکي قواوې
دانقلاب د بریالي توب نه

وروسته د ارتجاعي قدرتونو له خوا په ناځاپي ډول
راګیر کېږي دوی دهېواد

سرنوشت بدلوي او په ملیونو
بې ګناه انسانان په بېرحمۍ
سره عام قتل کېږي .

دا افرادي نو کرانو
دغه ډول وطن خرخونکي د
معصومو بې ګناه ماشو

مانو دوژلو په زرونو وطن
پالونکو محصلینو او بې
وزلو زده کوونکو دوژلو او

دخپلو ملیونونو وطنوالو
دبې کوره کولو د پاره نه
یوازې دخپلو بادارانو په امر

او هدایت نه شرمېږي بلکه
خوند تري اخلي .

زموږ په غریب هېواد
او زموږ په بې وزلو خلکو
باندې یې هم غوښتل چه

یو شمېر بې عاطفې بې رحمه
او وطن پلورونکو انسانانو
دعام قتل او زموږ دهېواد

د بې سرنوشته پاتې کېدو
په بدل کې هغه عملي کې .
نور هېواد و نه چه د

تجزیه اخته سوي دي ، ډېر دي .
له هم هغه لمړي مرحلې نه چه
زموږ مدبر لارښوونکي او

مشر د نوي نظام دجوړولو په
فکر کې و . یوه ثانیه یې هم
ملي ضد قواوې دفکره لېرې نه

ساتلې او تل یې خپل پېروان
د وطن پلورونکو خلکو
حرکاتو ته متوجه کول ددوه

درسونه وچې زموږ ستر ګې
یې خلاصې او زموږ غوږونه
یې دخطر دزنګونو اورېدلو ته

تیار کړل .

تر اوسه لاځو ورځې نه وې
تېرې سوې اولا غوښتل مو
چه نوي دخپلو خلکو دبې

وزلې او دزیاتو بدبختیو د
لېرې کولو لارې چارې و
لټوو چه دخلکو د دښمنانو

یوه ډله ، هغه ډله چه خپل
ژوند او آبروئې د ګران
هېواد په خرابوالي کې په

کلونو کلونو لټولي وه په
توطئه لاس پورې کړ .
او غوښتل یې چه وطن

پالونکي قوت عام قتل کې
غوښتل یې معصوم ماشومان
او د انقلابیونو بې ګناه

کورنۍ د پردولاسې بهونو
په چولو سره محوه او له

مینځه یوسي دعلم دروازې
او درنا کړکې زموږ دخلکو
پرمخ وتړي له ښه مرغه مخ کې

له دې چه په دغه شرمونکې
عمل بریالي سي کشف کېږي
سندونه لاس ته راځي او نور

پرته له اعتراف نه بله چاره
نه پاته کېږي .
یو په بل پسې اقرار کوي

او یو په بل باندې شاهدي
وايي .
محمدهاشم میوندوال

غواړي دخپلو ملګرو ډغ
واوري او اوري یې ، غواړي
هغوي وویني ، وېني یې .

نور یې څه کړي وای قلم
غواړي او کاغذ پخپله یې
لیکي . سوال دلته دی چه

ولې ئې ځان وواژه هیأت
دده نه پوښتنه کوي....
پو ښتنه :

ښاغلی میوندوال اشاهي
رژیم نوي چپه سوی دی او د
انقلاب لمړی ورځې دی د

خلك هیله من دی چې د
سولې او سلامتیا په ساحه کې
دخپلو بدمرغیو په لېرې
کولو کې فکرو کړي د وطن

پالونکو د پاره د پر مختګ
لیاره پرانستې ده او

د ا تلونکي وخت یې روښا نه دي
جمهوري ریاست او د حکومت
نور غړي په اساسي قانون
کې د افغانستان د خلکو په
انتخاب چې په راتلونکې
نژدې وخت کې جوړیږي
ټاکل کیږي .

دهغه نظام په له منځه
وړلو کې په دغه لړ وخت
کې ستاسو او ستاسو د ملګرو
هڅې چه پخپله مو ولیدل
چه د افغانستان د خلکو د
مطلق اکثریت او په تیره بیا
د وطن پالونکو قوتونو له
خوا د تائید او ملاتړ مورد
وګرزیدل او د بلې خوا دغه
سندونه چه ستاسو په مخ کې
دي ستاسي او ستاسو د
پېروانو اقرار دی د افغا-
نستان د بیوزلو، بدمرغو او
وږو خلکو بیرحمانه او
نامردانه وژلو نه پر ته ستاسو
په ګمان په هغه کې بله څه
نتیجه شته چه په دې کار مو
لاس پورې کړ.
جو اب : کاغذ اخلي،
او هیله کوي چه تر راتلونکي
شپې پورې ده ته اجازه
ورکړه شي چه خپل جواب
په سړه سینه تیار کړي .
جواب : هو جواب!

د هغې شپې د ګهیځ په
لمړیو شیبو کې ځان وژني
او څه شیبه وروسته د هغو
زرګونو جاسوسانو غوندې
چه د خپل هیواد سره خیانت
کوي ستر ګې د نړۍ نه
پټوي او هغه با ارزښته
اسرار چه د نړۍ ټولو انقلابي
خلکو ته یې حیاتي ارزښت
درلود د ځانه سره تر خاورو
لاندې کوي.

هیئت محترم تحقیق

۸/۷/۱۳۵۲

بیله پوښتنې ئې پخپله قلم او کاغذ وغوښت او دا اعتراف نامه ئې ولیکله

د میوند وال د اعتراف پښتو متن

د تحقیق محترم هیئت!
لکه چې تاسي د تحقیق د جریان په څو شپو کې څرګنده کړه چې زما په ضد زیات دلایل وجود لري او شواهد هم موجود
دي چې ما په خپل کور کې مجلس ترتیب کړی ؤ چې په هغه کې یو شمیر اشخاص موجود وه او ملته درژیم پاضد
توطئه جوړه شوې ده زه اعتراف کوم چې د دغسې مجلس په ترتیب کې زه دستري اشتباه مرتکب شوی یم .
د محمد هاشم لاسلیک د میزان ۸ ر ۷ ر ۱۳۵۲

بناغلی میوندوال

با استفاده از جوابات قبلی که پرسیده میشود
اثر دید وادید و ملاقات که با جناب منصبدار
خورد رتبه و عالیرتبه بروئیت [illegible]
[illegible] در روشن ساختن حقایق موضوع
توضیحات لازم ارائه نمائید.
۱۳۵۲/۷/۵

[illegible] عبدالرزاق
خان پرسان کرده بودید [illegible]
[illegible] نداشته ام [illegible]
مورد نظر شما باشد [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
حقیقت را [illegible]
[illegible]

دخان محمد خان: عبدالرزاق خان سره د ارتباط څخه انکار کوي.

دپورته کلیشې دسوال اوجواب پښتو متن

پوښتنه:

ښاغلی میوندوال!

ستاسو له تېرو جوابونو ځخه په استفاده پوښتنه کېږي [illegible] د [illegible] صاحب منصبانو سره مقامي [illegible] کتنې او ملاقات د [illegible] د موضوع د حقایقو [illegible] کې لازم توضیح وړاندې کړئ.

(۱۳۵۲-۷-۵)

جواب:

محترما!

تاسو محکمې ته [illegible] مشخص کسانو [illegible] او عبدالرزاق خان په باره کې پوښتنه [illegible] جواب [illegible] سره [illegible] ارتباط نه لاره کوم بل ځوک هم [illegible] موادو [illegible] پوښتنه وکړئ.

تاسو ته معلومه ده چې [illegible] په [illegible] توصیه [illegible] داخل [illegible] قضایا [illegible] او د دولت د رئیس صاحب [illegible] منظور [illegible] حکمانو [illegible] او اعلام [illegible] او [illegible] زمان [illegible]

[illegible] بل [illegible]

دمحکمیو قواو تیاری دخان محمدخان په وسیله اودهوایی قواو تیاری
دعبدالرزاق خان په توسط شهادت ورکوی.

(د۳مخ باته)

زه ستا په قضاوت او حق بینی عقیده کوم چی کولی شی حقیقت پیدا کړی چی زما او م په دغه موضوع کی چی نه بوهیږم ځنګه ده، نښتل کیږی.

۱۳۵۲/۷/۵

(دمحمد هاشم لاسلیک)

د ۱۸۵ کلیشی دپوښتنو او ځوابونو
پښتو متن

پوښتنه.

ښاغلی میوندوال!

لکه چې په پخوانی پوښتنه کښی

له تاسی څخه پوښتل شوی وه د کودتا د پلان ترتیب او د عملی کیدو صورت یې له هغه صحبت سره چې ستاسی او ستاسو

د همدستو او شریکو ملګرو ترمینځ شوی وه په مفصل ډول بیان کړی سمی وکړی وه چې د هر ملګری ګفتار پښپل

خاطر کښی راوړی وه او همدارنګه هغه صحبت چې ستاسی له خوا په دی باره کښی شوی دی په تفصیل دوا یاست.

۱۳۵۲/۷/۸

لاسلیک

جواب:

محترما!

له هغوی څخه هر یوه د خپل

مسلک له نقطه نظره ئی تشریح وکول.

د خبرو تفصیل یې زما په یاد نه دی.

«د محمد هاشم لاسلیک».

مکرر دا چې خان محمد خان د مځکنیو قواؤ

له تیاری او عبدالرزاق خان د هوایی

قوا و له تیاری څخه صحبت وکی.

«د محمد هاشم

لاسلیک

۱۳۵۲/۷/۸

۱۹

با علی محمد رستم درمیوند دول !

چون که شما خودتان اظهار کردید که دلایل کافی
عرض اثبات علیه شما موجود است و علاوه نمودید
که با اینکه شهادت محمد اکرم سپلوتی را دارا است
تمام صفات مکمل شهادت بود استماع نمودید
که اگر شهادت یکی شخص دیگر از رفقا هستم
خود را استماع نماید و اینکه اگر خودش
نوشته که حاضر است و شما باید تحریر نماید که از موضوع
را به تلقین خویش در محکمه اراده نکرده بلکه
از زردی خود ... است پس این اشخاص
باید سند تحریری در زمینه تحریر نماید ؟

قره ۱

چون شما زنوده که از اشخاص متهم
علیه من موجود است و میتوانید آن
بشنوانید من به شنیدن آواز ... شد
این شهادت اعتراض ندارم
و در محکمه اعتراض ندارم
هرچند خواهش محمد بن ... سرده است

پسله دو سره کسانو د آواز و له اوریدو او دوی له شهادت څخه اعتراض نلري.

د۱۴ کلیشی د پوښتنو او جوابونو

پښتو متن

پوښتنه:

ښاغلی محمد هاشم میوندوال!

لکه چې تاسې پخپله په شفاهي ډول وویل چې ستاسې په ضد د اثبات په غرض کافي دلایل موجود دي او زیاته مو کړه چې سره له دې چې د محمد اکرم بیلوټ د شهادت موچې د شهادت د ټولو بشپړو صفاتو لرونکی ؤ واورید چې که د خپلو مهمو ملګرو څخه د یوه بل تن شهادت واوري، دی ستاسې په خواهش او غوښتنه حاضر دی او تاسو باید ولیکی چې د دغه موضوع مو په خپل تلقین کښې په محکمه کې ښودلی نه ده بلکه ستاسو تپله آرزو ده. نو په دې اساس باید په دې باره کښې لیکلی سند ولیکی.

لاسلیک

۱۳۵۲/۷/۸

جواب:

محترما!

څرنګه چې تاسی وفرمایل چې له مشهورو اشخاصو څخه د یوه تن شهادت زما په ضد موجود دی او کولای شی

چې هغه ما ته واوروی، زه د دغه ثبت سوی شهادت د آواز په اوریدو اعتراض نه لرم.

د میزان ۸ «محمد هاشم»

او په محکمه کښې اعتراض لرم

«محمد هاشم»

څکه چې زما خپل خواهش ؤ.

«محمد هاشم»

16

شما آقای محمد هاشم میوندوال،

قرار بود که در جواب خویش تحریر نموده اید که

در مجلسیکه علیه رژیم جمهوری افغانستان

در منزل شما تشکیل شده بود ترکیب اجتماعی

شده بودند اشخاص را که درین مجلس مربوط

علیه رژیم جمهوری تحت چه کسانی تشکیل

شده بود تماماً معرفی نمایید؟ علی الصدارة

درین جوابی که در ورق صدارت اقرارنامه نوشته

ام جوابی که در جریان تحقیقات معلوم شده است

خان محمد خان و عبدالرزاق خان و عبدالاکرم خان

بصورت حاضر کرده شد

میوندوال

شما آقای میوندوال

که از سه نفر در جواب خویش نام برده اید

لطفاً وضع ... کنید که این سه نفر چه کاره اند

و از چند وقت با شما معرفت و آشنایی

دارید؟ علی الصدارة

۱۳۵۲/۷/۸

قربان

معرفت و آشنائی خود را با خان محمد خان و عبدالرزاق

خان در اوراق گذشته گفته ام و عبدالاکرم خان

را صرف یک دو دفعه شب گذشته معرفی شدم خان محمد خان

حالا فامیل خان محمد خان ... و عبدالرزاق خان

... قوماندان ... سابقه است

د خان محمد خان او عبدالرزاق خان سره پر خپله اشنایی او شناخت اعتراف کوي «۸ مخ»

د ۱۶۰ کلیشی د سوال او جواب

پښتو متن

پوښتنه:

لکه چې تاسی پخپل جواب کی لیکلی دي چې په هغه مجلس کی چې د افغانستان د جمهوري رژیم په ضد

سقاسي په کورکی تشکیل شوی و د اشتباه مرتکب شوی یی هغه کسان چې د جمهوري رژیم په ضد سقاسي په رهبري د توطئې په دغه مجلس کی

تشکیل شوي وو نومونه یې معرفي کړی ده.

(لاسلیک)

پوښتنه:

ښاغلي میوندوال!

تاسي پخپل جواب کی د دریو تنو

نومونه یاد کړي دي لطفا واضح کړی چې دغه دري تنه څه کاره دي او له څو مره مودې راهیسې له هغوي سره پیوندګلوي او آشنایي لرئ.

۱۳۵۲-۷-۸

(لاسلیک)

جواب:

په دغه مجلس کی چې د اعترافیې په بیله پاڼه کې می لیکلی دي لکه چې

د تحقیقاتو په جریان کی معلومه شوی ده خان محمد خان او عبدالرزاق خان او محمد اکرم خان پیلوټ حاضر وو.

محمد هاشم

د میزان ۸

جواب:

محترما!

له خان محمد خان او عبدالرزاق خان سره می خپله پیوندګلوي او آشنایي په تیرو پاڼو کی ویلی ده او له محمد اکرم خان سره په څو تیرو شپو کی ور معرفي شوم، خان محمد خان همدغه خان محمد خان مشهور په مرستیال او عبدالرزاق خان همدغه پخواني هوایي قوماندان دي.

۱۳۵۲/۷/۸

۱۳

قربان!

[illegible] د [illegible] ... [illegible]

[illegible] داشتم [illegible]

... کودتا [illegible]

ښاغلی [illegible]

[illegible] خوارس [illegible]

هریک:

۱ـ خان محمد خان مرستیال

۲ـ عبدالرزاق خان قوماندان هوایی

۳ـ محمد اکرم [illegible]

د [illegible] خوځښت مخلص [illegible] علیه [illegible]

جمهوری افغانستان [illegible] گرده [illegible]

[illegible] موضوعات [illegible] مفصل

[illegible] تحریر [illegible]

[illegible]

پر کودتا د اقدام اعتراف کوي.

د ۱۷ کلیشی د سوال او جواب

پښتو متن

پوښتنه :

ښاغلی میوند وال !

کله چې تاسي د خپلو دغو

درو تنو ملګرو په ګډون هڅه کړې وه :

۱ـ خان محمد خان مرستیال،

۲ـ هوایي قوماندان

عبدالرزاق خان

۳ـ محمد اکرم پیلوټ .

پخپل کور کښې د افغانستان

د جمهوري رژیم په ضد د توطئې

مجلس دایر کړی ؤ په کومو

موضوعاتو او په څه تفصیل مو له

هغوسره صحبت وکړ ؟

لطفاً جریان مفصلاً ولیکی ؟

۸-۷- ۱۳۵۲

«لاسلیک»

ځواب :

محترما !

په دی مجلس کښې د جمهوري

رژیم په باب انتقاد و نه وشو لا او

حاضرو کسانوو یل چه د کودتا

په بوه ۱۰ قدام لاس پوری کړی .

محمد هاشم لاس لیک

زموږ نه فنا کېدونکی انقلاب

تل داسې اسناد نه سو راټولولی په هر وخت کې داسې دسیسې نه بربنډیږي، خو دا کار هلته کیږي چه شریف انسانان

انقلاب وکړي او څو چه ژوندي وي انقلابي پاتې شي.

په افغانستان کې د انقلاب دوستان دانقلاب دساتنې او حفاظت دپاره

غښتلي او نه فنا کېدونکي سرمشق گرځېدلی دی کله چه د خائینانو له اوټپله

غواړي چه انقلاب نسکور کړي او وطنپالونکي ورټه او فنا کړي نو ددې

کار دپاره چاره لټوي چه څنگه دانقلابیانو ترمنځ باور، یووالی او تړون وران او مات کړي؛ دوی

ته ورنژدې کیږي، وعدې ورکوي او دسیسې جوړوي دوی په دې نه خبریږي چه دانقلابي او وطن پلرونکي

ترمینځ داسې فاصله شته چه په پیسو جاه او مقام له مینځه نشي تللی.

انقلابیون دوی ته ورنژدې کیږي لاس ورسره یو کوي او په راز کښې

ورسره شریکیږي په هر څه ځان پوهوي او ټولې تیارې روښانه کوي بیا نو ځان ته هیڅ تورتمې، شك او

تردید نه پرېږدي، نو په دغسې یو وخت کښې وایې چه ای دنی کسانو ای ټیټو انسانانو ای وطن پلورنکو

ای بې رحمه قاتلانو ځانونه تسلیم کړي، نور نو انقلاب په تاسو حکومت کوي دا

انقلاب دی چه تل پاتې کیږي د تاسو او ستاسو ارتجاع ده چه محکومیږي او ځې ور کیږي.

نو بیا دوی اعتراف کوي ځکه د دوی اوازونه ثبت او سندونه ضبط سوي وو.

د دغو خائینانو د اعترافونو یوه بله نمونه چه په لومړیو مخو کې خپره سوې وه.

دمیوندوال د اعتراف دپاڼې او د ننگرهار د پخواني والي خان محمد د اعتراف د پاڼې څخه ځرگندیږي چه میوندوال لمړی غواړي د خپلو همکارانو او زوارو وري بیا غواړي دوی ووینی او په دغو دواړو حالاتو کښې لیکي چه په شهادت باندې اعتراض نه لرم.

خان‌محمد اعتراف کوی چه میوندوال دیوه خارجی هیواد له خوا هغوی ته د مرستی وعده ور کړې ده.

«۱۳ مخ»

د دمخنی کلیشی د پوښتنو او ځوابونو

پښتو متن

سوال:

ښاغلی خان محمد خان!

تاسې پخپل مخکېنی جواب کې ولیکل چې د غه کودتا چې موږ ورته ملا تړ لی وه په هغې کې محمد هاشم میوندوال عبدالرزاق خان او نور کسان سهیم وو او زموږ په راس کې محمد هاشم میوندوال و. هغه مرسته چې تاسې د محمد هاشم میوندوال څخه د هغې په انتظار کې واست له څه شیانو څخه عبارت وه؟

۴ر۷ر۵۲

«لاسلیک»

ځواب:

محترما!

په هغه مجلس کې چې د محمد هاشم میوندوال صاحب په ګلهوت جوړ شوی و ښاغلی محمد هاشم میوندوال وویل چې یو خارجی هیواد حاضر دی چې له موږ سره د پیسو او وسلې لکه سپکه وسله یعنې توفنګچه، ټوپک، ماشینګڼ، راکټ غورځونکی او سپک هاوان دوسلو مرسته کوی او په ممکنو ذرایعو زموږ په دسترس کې ایښودل کیږی او البته وروسته له هغه چه ټول شیان لاس ته راشي هغه وخت به کودتا کوو. له دغه هیواد سره اوس اوس زموږ مراوده جاری ده.

«د خان محمد لاسلیک»

۱۳۵۲/۷/۱۸

قرار!

چون شما ادعا نموده اید که از اشخاص متهم شهود اند [illegible] موجود است و میتوانید آنها را [illegible] آواز ثبت شده

ورقه [illegible] دست اعتراض ندارم

ورقه [illegible] اعتراض ندارم

[illegible] خواهش [illegible] نموده است

با تعلیمی محمد کریم درحضور [illegible]

حوزه که شفاها خودش اقرار [illegible] دلایل کافی

عرض اثبات علیه خود است [illegible]

که با اینکه شهادت محمد کریم [illegible]

تمام صفات مکمل شهادت بود استماع نموده شد

که اگر شهادت یکنفر دیگر از رفقای متهم

خود را استماع نماید [illegible] اثر [illegible]

نخواهد داشت [illegible] باید تحریر نماید که [illegible] موضوع

را به تلقین خودش در محکمه [illegible] بلکه

ارزدی خود [illegible] است پس [illegible] اشتراکش

باید سند تحریری در ورقه تحریر نماید

پسله دورسره کسانو د آوازوله اوریدو او ددوی له شهادت څخه اعتراض نلري.

د ٤ کلیشی د پوښتنو او جوابونو پښتو متن

پوښتنه:

ښاغلی محمد هاشم میوندوال!

لکه چې تاسې پخپله په شفاهي ډول وویل چې ستاسې په ضد د اثبات په غرض کافي دلایل موجود دي او زیاته مو کړه چې سره له هغه چې د محمد اکرم پیلوټ شهادت مو چې د شهادت د ټولو پښېو د صفاتو لرونکی ژ و او ورېدې چې که د خپلو مهمو ملګرو هغه د یوه بل تن شهادت واورې د دې ستاسې په خواهش او غوښتنه حاضر دي او تاسو باید ولیکې چې دغه موضوع مو په خپل تلقین کښې په محکمه کې څوک لي ته نه بلکه ستاسو خپله آرزو ده. نو په دې اساس باید په دې باره کښې لیکلی سند ولیکې.

لاسلیک

۱۳۵۲/۷/۸

جواب:

محترما!

هرڅنګه چې تاسې وفرمایل چې له متهمو اشخاصو څخه د یوه تن شهادت زما په ضد موجود دی او کولای شی

چې هغه ما ته واوروي. زه د دغه ثبت شوي شهادت د آوازیه اوریدو اعتراض نه لرم.

د میزان ۸ «محمد هاشم»

او په محکمه کښې اعتراض نلرم.

«محمد هاشم»

څکه چې زما خپل خواهش ژ.

«محمد هاشم»

لیکوونکی فضل محمد «پنهان»

د تاریخ یوه ګوښه

په هندوستان کښې د مغولي امپراطورۍ مؤسس او د پښتني نهضتونو بیداریدل

په هند کښې د مغولي امپراطورۍ مؤسس ظهیرالدین محمد بابر دی د پلار نوم ئې عمرشیخ بن سلطان

ابوسعید میرزا بن محمد میرزا بن میرانشاه د امیر تیمور زوی دی. مور ئې «قتلق نګار خانم» نومیږی

چې د نسب سلسله ئې د دغې لارې چنګیزخان ته رسیږی چې هغه په دې ډول ده:

بابر بن قتلق نګار بنت یونس خان بن ویس خان بن شیرعلی بن محمد خان بن خضر خواجه

بن تغلق تیمور بن ایش بغا بن دوا خان بن براق بن ایسان بوقا بن متوکان بن چغتای بن چنګیزخان

بابر په ۸۸۸ هـ د محرمې د میاشتې په ۶ او ۱۴۸۳م د فرورۍ په ۱۴ په فرغانه کښې زیږیدلی او د پلار تر مرګه

وروسته ئې د سلطنت واګې په خپل لاس کښې واخستلې. د ده پلار

عمرشیخ میرزا په ۸۹۹ هـ کال د روژې په څلرمه د دوشنبې په ورځ

وفات او پر ځای ئې ظهیرالدین بابر چې ۱۲ کلن زلمی و پاچا شو. بابر په ۹۱۰ هـ ـ ۱۵۱۴م د فرغانې څخه د خراسان

د نیولو په غرض د حصار ولایت، ازبکه دوشی او کابل فتح کې په ۹۱۳ هـ کښې ئې کندهار و نیوی. په ۹۲۵ هـ کښې ئې غزنی، وهاج، بنو، ګومل تر کلات پورې تر خپلې ادارې لاندې راوستل. د څه رنګه په ۹۲۵ هـ کال کښې ئې د کابل څخه د هند د نیولو نیت وکې په ۹۳۲ هـ د رجب د

میاشتې په ۱۵ (۱۵۲۶)م د اپریل پر ۲۷ ئې ډهلی او ټول هندوستان تر خپل تسلط لاندې راوستی.

کوم وخت چې بابر په ۹۳۷ هـ (۱۵۳۰)م د ډسمبر ۲۶ د جهان څخه سترګې پټې کړې د ده دغه عظیمه امپراطورۍ د ده د زامنو

تر منځ د جنګ او جدل سبب وګرځیده

د دې خانه جنګۍ څخه سوری شیرشاه استفاده وکړه. او د ډهلی تخت ئې د مغولو

څخه و نیوی. د ۹۵۰ ـ ۱۵۳۹ څخه بیا تر ۱۵۴۵م پورې ډهلی د سوریانو مرکز و. هغه وخت چې همایون د شیرشاه د لاس څخه

ایران ته تښتیدلی و افغانستان ته راغی

او په افغانستان کښې یو قوی لښکر راټول او پر هندوستان ئې حمله

وکړه او هندوستان ئې د شیرشاه څخه و نیوی.

په ۱۵۵۶م کال کښې همایون په ناڅاپی ډول مړ او پر ځای ئې اکبر پاچا شو د هند په مغولي دوره

کې اکبر لومړی سړی دی چې د یوې خوا ئې خپله امپراطوري پراخه کړه او د بلې خوا ئې د هندوستان

فیوډلان لا پسې قوی کړه. دا کار اکبر په دې لحاظ وکې چې دوی تر څو چې فیوډال طبقه قوی نه

سی تر هغه وخته دوی نسوای کولای چې د خارجي تیري او داخلي چور چپو او شمالي ختیځو سیمو د خوا د کوچي

قبایلو د یرغلو په مقابل کښې مقاومت وکړی.

په ۱۷م پېړۍ کښې د مغولو په امپراطورۍ کښې په یوه حساب ۱۰۰ ملیونو او په بل حساب ۱۵۰ ملیونو انسانانو ژوند کاوه په

د دغه لوی امپراطورۍ کې د کابل څخه پیا تر بنګاله او هم لیا تر غرو پورې ټولې ملکې شاملې وې او ګڼ مختلف ولسونه پکښې اوسېدل .

فرانسوا برنیه لیکي : د مغلو په امپراطورۍ کښې مغلو او نورو ولسونو ژوند کاوه چې اکثرو ولسونو مغلو ته باج ورکاوه او هینو سیمو مغلو ته ډېر لږ مالیات ورکاوه او هینو سیمو هیڅ مالیات نه ورکاوه .

داسې سیمې هم وې چې د مغلو څخه ئې باج اخستې . په دې جمله کښې څه حاکمان داسې چې د ایران سره هم سرحده وه دوی نه مغلو ته څه ورکول او نه پارس ته . په دې ولو کښې پښتانه ، بلوڅ او هینې نور عربي قبایل شامل وه » .

په دغه لوی امپراطورۍ کښې چې کوم پښتني نهضتونه منځ ته راغلي هغه د پیر روښان او خوشحال خان نهضتونه دي د دغو نهضتونو هدف دا ؤ چې هغه پښتانه چې د مغلي استعماري پنجې لاندې ژوند کاوه خلاص او په پښتني سیمو کښې مغولي استعمار ته خاتمه ورکړي .

د پیر روښان یا بایزید انصاري نهضت :

بایزید انصاري یا پیر روښان د قاضي عبدالله زوی چې هغه د شیخ محمد هغه د سراج الدین هغه د ظهیرالدین هغه د سدره هغه د محمود هغه د اژد هغه د شیخ شمس الدین هغه د خلیل هغه د لقمان هغه د شیخ خدایداد هغه د شیخ منصور هغه د شیخ احمد او هغه بیا د خواجه ایوب انصاري زوی دی . د مور نوم ئې بي بي آمنه دی .

عبدالاکبر خان اکبر په خپل اثر کښې چې نوم ئې دی «روښانیان د مغولو تاډیکیان» د پیر روښان د زیږیدو نیټه داسې ښئي «د بایزید انصاري پیدایښت د هغه تر مغولو چې په هندوستان کښې پښتني پاچهي وه او په دې وخت کښې اکثره پښتني قبیلې په هندوستان ، پنجاب او سند کښې میشتې وې . په دوبي پخپل وطن کښې وه او په ژمي په هندوستان ته راتلې چې وروستي پاچاهي د لودي خاندان هغه ؤ . هغه وخت چې بابر د ابراهیم لودي هغه د ډهلي تخت واخیستوی .

عبدالله د پیر روښان پلار هم په جالندهر کې واده وکې په دې ورځو کې بابر پر هندوستان حمله کوي . د عبدالله د واده څخه یو کال وروسته خدای (ج) زوی ورکړ چې پخپله عبدالله د هغه نوم بایزید کېښود . په «دبستان مذاهب» کښې د پیر روښان د زیږیدو نیټه داسې لیکل شوې ده (د بایزید پیدایښت د بابر د حملې نه یو کال مخکښې چې بابر په ۱۹۲۶م کال کښې پر هندوستان حمله وکړه . بایزید په ۱۹۲۵ کال کښې پیدا شوی دی» .

قیام الدین خادم او ظفر کاکاخیل د بایزید د زیږیدو تاریخ ۹۳۲ه-۱۵۲۶م ښودلی دی .

د افغانستان تاریخ دوهم ټوک د «و . م . ماسون او و . ا . روماډین» تالیف د پیر روښان د زیږیدو وخت ۱۵۲۵ کال ښودلی دی .

په هر صورت کوم معلومات چې د زیږیدو په باب لیکل شوي دي او ترکومه ځایه چې زما پوهه کیدل محترمو لوستونکو ته مې د هغه ذکر وړاندې کې . اوس د راځو د هغه وخت اوضاع یو څه څیړو .

په هندوستان کښې د اوخت په پښتني سیمو کښې فیوډالي روابط یو څه ودل نه وه او اقتصادي ئې انکشاف لو منځ ته انکشاف وي . طبقاتي تضادونه ورځ په ورځ زیاتېدل خو دغه سبب ؤ چې پښتني خلقي نهضت منځ ته راغی دغه نهضت د مغولي دوباري قدرت په مقابل کې او د بلې خوا ئې د پښتني اشرافو پر ضد خپله مبارزه کوله . په دې لحاظ په ۱۶م پېړۍ کښې مسلح قیامونه منځ ته راغله چې په دې ملي قیامونو کښې ډېرو پښتني قبایلو برخه واخستله د پښتنو د دغه ملي نهضت چې پر مذهبي اساس بناؤ مؤسس ئې پیر روښان دی .

پیر روښان خپل ابتدائي تعلیمات د خپل پلار ده یوه شاګرد د خپلېده باینده څخه حاصل کړه د قاموسي مشکلاتو سره سره بیا هم ئې د خدای تعالی (ج) د قرب او معرفت په علم کښې مصروف ؤ . پلار ئې کوښښ کاوه چې دی د فقهي علم زده کړي او د یوه حاکم په دربار کښې قاضي شي خو پیر روښان دې ته غاړه

«پاتې په ۳۰ مخ کې»

د م، ناصر (نصرت) ژباړه

که غواړې چې خپل هدف ته ورسیږې!

د هدف ټاکل، د هدف پوهېدل، د هدف رسیدلو د پاره د قواوو تمرکز، او د هغه رسیدلو او د لاس ته راوستلو او په کار اچولو وسیله، د ژوند د مبارزې او مسابقې پر ډګر باندې ستاسې وظیفه او وسله ده.

ددې د پاره هغه څه چې انسان ئې په ژوند کې غواړي د عمل جامه وا غوندي یعنې خپل هدف او مقصد ته ورسیږي لازمه ده چې تر هغه دمخه دغه مراحل طی کړي:

د هدف ټاکل، د هدف پوهېدل د وسیلې د په کار اچولو شجاعت د قواوو تمرکز... او دا دی ددې مراحلو په باب چې تاسې د خپل هدف رسیدلو د پاره د هغو طی کولو ته مجبور یاست خبرې کوو:

د مثال په توګه هغه څه چې تاسې غواړئ په ژوند کې ئې لاس ته راولئ، د یو کاغذ پر پاڼه باندې ولیکئ، او هغه څه چې نور خلک ئې غواړي تاسې ور ورسیږئ پر هغه پاڼه ئې ولیکئ، او هم هغه څه چې نور خلک ئې ستاسې څخه د لاس ته راوستلو آرزو لري پر هغه مشخصه پاڼه باندې ولیکئ.

په دې وخت کې نو په دقت سره وګورئ چې په دغو یادداښتو کې تر ټولو ډېر په کوم مقصدونه، خواهشات او آرزوګانې دي چې انسان د هغو د سرته رسیدلو د پاره فداکاري وکړي.

په دې وخت کې شاید تاسې خطاوزی او یادا چې ځنې شرمناک خواهشات د ځانو د پاره یادداښت نه کړئ.

لیکن په دې وخت کې به د خپلو ځانو په باب ډېر صادقه او سئ او حتی هغه واړه واړه خواهشات چې په ورځو کښې ئې آرزومن او تلاښ مو کاوه او همدا اوس ئې آرزو ستاسې په زړه کې پاتې ده د کاغذ پر پاڼه ولیکئ. ځکه

له دې کار څخه مقصد دا دی چې ستاسو د ښو او بدو آرزوګانو او خواهشاتو ترمنځ فرق او توپیر کېښودل سي یعنې هغه څه چې مو خوښ دي تعقیب ئې کړئ او هغه څه چې مو خوښ نه دي پرې ئې ایږدئ.

همدغه های دی چې د دې مقصد د پاره خپلې ښې او بدې آرزوګانې او خواهشات باید په صادقانه صورت پر کاغذ باندې دا سې ولیکئ څو چې بیا په ښه توګه وکولای سئ، هغوی یو له بله بېل او د خپلو معقولو آرزوګانو په سرته رسولو پسې سي.

دا ثابته شوې ده چې په ژوند کې د انسان د بریالیتوب او توفیق موانع او د لارې سد (موانع) او هغه څه چې د ماتې او وروسته پاتې کېدو موجب کېږي، دا دي چې د سړي د روح په عمیق کې ډول، ډول متضاد تمایلات او خواهشات په جنګ او جدل کې دي او لکه آسان چې غواړي په مسابقه کې سره ولوېږي نو کله چې یو له بله سره مخامخ سي د حرکت نو توان ئې سپک شوی وي له وړاندې تګ څخه پاتېږي.

لیکن کله چې د مسابقې ډګر ورته جوړ او هر یوه ته لار پرانخه او خلاصه سي بیا نو پیشرفت ورته میسر سي، ځکه په معنی یو له بله مخامخ کېدو سره ئې وړاندې نه میسرېږي.

دغه رنګ د انسان په څټه کې هم د ډول، ډول آرزوګانو دغه حال او د هغو تضادونه دي چې له وړاندې تګ څخه ئې اچوي یې له هغه یل دا سې علت او نقص چندانې

ایدل شوی نه دی چې د بریالیتوب مانع سي. ځکه هغه څه چې انسان هدف ته رسوي عالباخودا زیات

او ډیر هدفونه دي چې یو له بله تضاد پیدا کوي.

ډیره زیاتره خلک د خپلو تضادو او ډول، ډول هدفونو او آرزوګانو

قرباني کیږي، او د یو عالم خواهشاتو او امیدونو سره جامد او بې حرکته پاتیږي، ځکه دوی

نه پوهیږي چه د هغو د کوم یوه د سر ته رسیدلو دپاره قدم واخلي.

لیکن داسې خلک هم شته په دې چه پوهیږي چې دوی څه غواړي یعنې چې خپل هدف ئې څرګند او مقصد ئې مشخص کړی وي او په ټولو

قواؤ سره په هغه پسې تلاش کوي.

دا مهمه ده چې تاسې تر دقیق بحث او تفکر وروسته کولای

سې چې خپل مطلوب او هدف روښانه او مشخص کړی او په پوره اطمینان او باور سره د هغه د کامیابي د رسیدلو په لاره کې قدم واخلې په

دې صورت نوماتې او ناکامي محاله ده. ځکه په دنیا کې هر څه د جاذبې د قانون تابع دي او

په اثبات رسیدلې ده چې د دغه قانون لکه څنګه چې په مادي عالم کې مؤثر دی و معنویاتو په دنیا کې هم جاري دی.

کله چې تاسې په خپله کامیابي او توفیق باور وکړئ، حتماً به موفق او بریالي اوسئ لیکن کله چې په خپله کامیابي او توفیق کې شکمن سئ او له دې څخه ووېرېږئ چې مبادا موفقیت مو

په نصیب نه سي او ګواکې ماتې او ناکامي مو په خپله ځانته پیدا کړې ده.

ښایي دا پوښتنه وسي څرنګه چې پوهیږو چې هر څوک د بریالیتوب او کامیابي آرزومن دي، نو بیا ولې

هر څوک د مقصد رسیدلو دپاره نه بریالي کیږي؟

جواب دا دی چې د کامیابي او آرزو توفیق بیا په اطمینان لرلو سره فرق لري، هو هر څوک غواړي موفق اوسي، خو

هر څوک بیا د موفقیت یقین نه لري، خو موفق هغه څوک دی چې په خپل توفیق او کامیابي باور او اطمینان ولري.

هر کله چې تاسې خپل هدف وټاکی لکه یو څوک چې له تاسې څخه پوښتنې کوي له خپله ځانه څخه پوښتنه وکړئ چې دا هدف مو د څه شي له پاره ټاکلی، ارزښت او انګیزه ئې څه شي، مقصد او مطلوب ئې څه ګټه لري؟ چې دا پوښتنې مو له ځانه وکړې او کوم هدف چې مو

غوره کړی دی، خپلې مخې ته ئې کېږدئ او هره ورځ ئې په نظر کې ونیسئ، یعنې شاوخوا اړخونه ئې له خپله نظره تیر کړئ.

ځکه مقصد او مطلوب او هدف په حقیقت کې د رود غاړې مثال لري چې

باید تر هغه پورې ورسو. دلته باید څه وکتل سي چې آیا ساحل (د رود غاړه)

ویښې او یا هغه ځای چې غواړئ ګام پکښې کښېږدئ کولای سئ چې دهو بیدو

ډاډ ئې ونه لري؟

ددې دپاره چې پوه سي چې ځرنګه لاړ سو ګام اخلئ، او چیرې

څې باید د کار له ابتدا څخه ئې په ترا ؤ ګوري په دغه ډول چې تاسې هم باید په ژوند کې لومړی له هغو

دوستانو سره چې د هغو پر تجربو او پوخګي باندې یقین لرئ سلا او مشوره وکړئ او بیا خو هلې

خپل ذوق او عقل ته مراجعه وکړئ.

د مثال په توګه، که تاسې د (۴۰) کالو یاست او ژوند مو غواړئ

چې تکړه هنرمند او یا مشهور تاجر سي بې ځایه نه ده چې په دې باره کې د خپلو تجربو لرونکو او خیر

غوښتونکو دوستانو، نظر وغواړئ ځرنګه چې په دې وخت کې تاسې په کلي توګه د خپل مقصد

پوهیدلو او هدف د کیفیت د درک کولو په مرحله کې یاست، خپلې سترګې په ترا خلاصې کړئ.

کله چې مو خپل هدف وټاکی، په مقصد پوره سوا ست او ټینګ عزم مو وکی چې هغه سرته ورسیږي

نو ستاسې ټول فکر او حواس باید د خپل هغه هدف شاوخوا ته متوجه، او باید هر وخت د هغه

تصویر تر خپل نظر او سترګو لاندې ولري، ترڅو تاسې همیشه خپل ټاکلی هدف ته مسلسل

وګورئ، ځکه ستاسې ټول قدرت د هغه د رسیدلو د پاره تمرکز پیدا کړي.

په دې باره کې تاسې باید ډېر داسې کوچنی په شان و اوسئ لکه څنګه چې هغه په خپلو بازیو کې سر ګرم داغلی، او حتی ورو ورو شیانو ته ئې پام دی. د هیڅ مشکلات نه لري له هغو کسانو سره چې پوهیږي مجلس ئې ستاسې د وخت ضایع کیدو موجب، او د پښېمانۍ سبب نه کیږي او یقین لرئ چې له هغو سره بحث کول ستاسې د هدف او مقصد رسیدلو د پاره مرسته کولای سي بحث او خبرې ورسره وکړئ، په تېره بیا له داسې کسانو سره صحبت وکړئ چې هغوی په ژوند کې مقصد ته رسیدلي او د موفقو کسانو په ډله کې ولاړ دي.

پوهېږئ حقیقت دی چې وائي «کله چې په لمر کې د یو ذره بین په مقابل کې یو کاغذ ته حرکت ورکړه سي، کاغذ نه سوځل کیږي، لیکن که ذره بین د کاغذ پر یوه نقطه باندې متمرکز کړه سي، بې له شکه به د کاغذ معینه نقطه وسوځي نو له دې کبله تاسې هم د خپل ټاکلي هدف د رسیدلو د پاره خپلې ټولې قوای یوې نقطې ته متوجه او په کار واچوئ یقیناً باور وسئ چې بریالی کیدلای سی.

تر دې وروسته په خپل ځان، خپل هدف او هغه نتیجه باندې چې د هدف رسیدلو د پاره به ئې لاس ته راوړئ پوره باور او اطمینان ولرئ، د لته هیڅ شی او هیڅ پېښې ته که څه هم هر څومره ناچیزه، کوچنۍ لویه او یا مهمه وي اجازه مه ورکوئ چې تاسې په سستۍ مبتلا او یا د نا امیدۍ په منګولو کې مو ونیسي.

تاسې هر کله په خپل توفیق باندې مطمئن د اعتماد او اطمینان د تکیه د روح په لرلو سره په خپل کار او کوښښ لاس پوري کړئ هر کله چې مو خپل ټول مشکلات په پراخ تندي او خندانه بڼه استقبال یعنی خپل هغه زیات قوتونه چې تاسې د خپل کار د مشکلاتو د پښېدو او د هغه د دفع د پاره په کار اچوئ، د دې سبب کیږي چې تاسې څو پلا مخې ته بوزي او دوهمه اندې تنګ څرخ موچک کاندې دا په یاد ولرئ چې د ژوندانه د هر رنګه سختیو په مقابل کې خندانه بڼه اختیار او په ئې خاطر ته و سپارئ چې که بوګړی ماتې او ناکامۍ هغه د رپسې وکړی په واقع کې هغه بوګړی توقف او موقع ده چې تاسې د خپلې تجربې د ماتې په رڼا کې کولای سی د خپل هدف د خواته یوه ښه او آسانه لار پیدا کړی.

د دې د پاره چې په ژوند کې همیشه امیدوار او د لاوره اوسئ تکیه خوش بینه او تجربه لرونکو دوستانو ستاسې د باره ډېره ښه کومک دی. لیکن هیڅ کله منفي باف بد بین او بد خواه خلک ځانو ته مه پرېږدئ چې د رنګه د داسې شخصیتو له حالاتو مطالعه چې د ژوندانه سفر و مقصد ونو ته رسیدلی وي، ستاسې د مقصد و او هدفو د رسیدو د پاره کومک کوي.

هدف ته د رسیدل لازمي وسیلې لري کله چې ستاسې هدف ښه ترا مطلوب سي، وسیله ئې هم مطلوبه وي لیکن نه باید چې د وسیلې تر پوره تشخص او دمخه د هدف په لار کې قدم واخلئ.

د دې د پاره چې ستاسې لار روښانه کړو، وایو چې د هدف رسیدلو د پاره هر ډول وسیله له هغو عناصر و څخه تشکیلیږي لکه خلک، د وخت او ځای شرایط، ستاسې خپل شخصیت، د ژوندانه مشکلاتو او مسایلو سره ستاسې د مخامخ کیدو د حل او روش او داسې نور چې دا دې د هر یوه په باره کې خبرې کوو:

د خلکو بیان باید په نظر کې ولرئ چې هغوی څرنګه ستاسې د هدف د رسیدو د پاره مرسته او کومک کولای سي. شته منان یا د نفوذ خاوندان، هوښیاران او پوهان یا احساساتي خلک د شعر هنر او عاطفي اهل، قوي او ضبطي خلک او یا هغه څوک چې د روحي قواوو په لرلو سره مشهور دي خلک د دري د مشخصاتو په صفت په نظر کې ونیسئ او بیا د هغو صفات د خپلو ځانو او خپلو هدفونو په باب تطبیق کړئ اسرار او روش ئې د ځانو د پاره و سنجوئ. وروسته د هغو په مینځ کې هغه څوک چې هغوی ستاسې سره او تاسې

«پاته په ۲۹ مخ»



تهیه کوونکی : رحیمی

افغان ملت ته خطاب

نوی نظام نوی آغاز نوی دوران راغی
د جمهوریت ارمغان سره کاروان راغی

چې د ملت واکمنو دردونو التیام غواړی
د سیاست ډگر ته هسې نکته دان راغی

افغان ملته ! افغانی عظمت به بیا کړی ژوندی
ستاسې لپاره جمهوریت چې ارمغان راغی

روحیات مو لوړ کړی افغانی غیرت مو کړی بیاوږدی
چې زعامت د دې ملت ته داؤد گران راغی

په ثمر داولی نهال د جمهوریت د نظام
افغان اولس ته د دردونو چې د درمان راغی

که خدای کول هیلی د دې ملت به شی ترسره
د جمهوریت د پلوشو چې اوس فرمان راغی

دینی تقوی ملی تقوی اصالت ساتی (منیب)
د هر اصیل افغان پدی باندی ایمان راغی

«عبد الحلیم منیب»

دهمت درس

ځان کړه خلاص له هر دره د غنا گوهر پیدا کړه
قناعت غوره کړه ځان ته قناعت هیکر پیدا کړه

په اثر چې ستا د سیوری باچهی ورسی و بل ته
باهمت او سرزوره گیه د همای وزر پیدا کړه

چې په آمدی شگفته شی د خوږی نیولی زړه ته
پریشان لکه نسیم شه په گلشن گذر پیدا کړه

په خزان د تملق دی د وجدان گل مړاوی نه کړی
هسکه غاړه د بر آزاده لکه سرو وسر پیدا کړه

په خندا لکه گل ارسه خوږه خلاصه ل جبین کړه
بد بینی مزمن مرض دی خوشبینی ثمر پیدا کړه

چې تابع په یو نگاه کړی قول عالم لطیفه اوسه
جلبیت او جذبیت کښی مقناطیس اثر پیدا کړه

نه د دروغ قول عمر شپه ده چې د جهل تاریکی شته
په آفتاب د علم و فن ته ځه رنگین سحر پیدا کړه

د سبا په وخت گلشن کښی د بلبلو په نغمو کی
داو بنا په غوږو او دم «مستوری» هنر پیدا کړه
«مستوره شال»

لنډۍ

دیدن دیار چې پکښې نه ری
که د سمسور گلونو باغ وی وران دی شینه

چې د وصال د میو ویشو
ز.د تقدیر په زولنو تړلی ومه

زه دی بو ځلی د یدن غواړم
په تصور کې به ترڅو دیدن کومه

بوی دوفا چې پکښې نه وی
داسره او سپین گلان دی خدای ورژوینه

سبارفتارتی

دریده‌می گریبان‌سترگی خرابار ی
به‌ماوکی ی‌خپل آفتاب دسحرچاري

دصورت وینی‌می‌وچی‌لکه برق سوي
خونخوادی به‌اوس دچاکوی‌خونخواری

لالی‌ژبی په‌هردم له‌تند ی و ژ ی
که‌هر‌خودی‌ستا دملا توری ا بداری

بلبلان‌دپتنگانو‌په‌شان سوځی
ستارخسار لکه گل ریز شعله‌بهار ی

دوازه‌سترگی‌ئی ملالی خه‌ر‌ننگ‌نه‌وی
چی‌همیش‌لکه‌نرگس اوسی بیمار ی

پری‌می‌سترگی‌منوری لکه‌لمرشوی
خطدی‌واده‌شماحی وخوش نگاری

په بل‌مخ به‌سترگی واغنچه‌وارنکیم
مگرته راشی په باغ سپارفتار ي

رقیده‌می دیرهارنیست ونا بودکا
غځیده‌ می‌دی بهبودپه‌شان دلاری

«شیدا» تیغ دگل په‌څه باندی‌رنگین‌شو
کـه بلبلی دبـهـارنـه‌دی‌فـگـاری

کاظم‌خان«شیدا»

نامحرم ولاړ ی له‌منځه حریفانو
ور ترخی‌پیالی دا‌سرگی‌مهرو‌یانو

دحجاب‌لـه‌قیده‌و‌بیاسی خـانـونه
ستر نشته په محفل کی دراندانو

دنوخطومینه

دنوخطومینی هسی کړم بی بته
چی وښی‌می هرمیږی‌او مچ‌په‌لته

ته‌دغپلو اوس به‌کارنه دپردو یم
عاشقی کی مه ترحده‌بی عزته

ستاوحسن‌ته‌سوده‌آه‌درقیب ژبان‌دی
گل رژیږي دساده بادله هیبته

دگلرخوداغ‌می‌شته‌په‌زړه پوهیږم
چی لاله به‌می زرخون شی له‌تربته

دهجران په‌رنځ‌اخته‌یم‌دوادا کړه
دوغ به‌نشم ستا دلبوبی شربته

سی یقوب‌می ستاددرله‌سیپوولید
ازمویل نه‌شی خوله‌وي هم‌صحبته

چی‌می‌ژوندپه‌دوی‌موقف‌دی څه‌برهیز کړم
زه«حنان» له‌خوبرویانوله قـر بـتـه

مرزاحنان

بنــدلی ځلوریځه

برابی به‌میومست‌راوو‌تم دخمخانی
نوافقان‌خیزان‌دهو سوم‌مخ په‌لورد کاشانی

په ظاهره که مستوم، ژړه کی هوښیاروم
وهمدم ته‌ می‌برلاڅی جوهدولی بهانی
«طه رحیمی»

یوه ادبی ضایعه

د میزان په شپږمه نیټه د
کندهار ادبی محفل یوه لویه
ادبی ضایعه ورکړه چې د هغه په

اساس نه یوازې د هغه د دوستانو
او اشنایانو زړونه غمجن سوه،
بلکه د ادب د مینانو د خواشینۍ

موجب هم وګرزېدی. دا شخصیت
مرحوم حاجی عبدالغفور ؤ چې په
(شیخ صاحب) سره یې شهرت درلود

شیخ صاحب د پښتو پر سابقه
لرونکی او پوخ لیکوال د ښو
نظریاتو او رسافکر خښتن ؤ

عالی شاعرانه طبع یې لرله هرچا
چې د دغه مرحوم سره ناسته ولاړه
درلوده په تیر او ورته معلومه ده

چې شیخ صاحب یو ډیر آرام،
خنده رو په خوشطبع، اخلاقی او
د ښې عقیدې خښتن او پر پښتو
مینګه سړی ؤ.

حاجی عبدالغفور د حاجی
عبدالستار زوی د کندهار په
لومړۍ ناحیه کې زېږېدلی او

د مروجو علومو تحصیلات یې په
خصوصی توګه سرته رسولی وه.

که څه هم سن یې تقریباً ۷۰
کالو ته رسیدلی ؤ خو بیا هم پوره

او روغ سالم صحت خښتن معلومېدی
د ده د ژوندانه زیاته برخه په جلاوطنی
د هندوستان او عربستان په سفر کې
تیره سوې ده.

۳۵ کاله پخوا کله چې په کندهار
کې ادبی انجمن موجود ؤ نو شیخ صاحب
هم په هغه کې غړیتوب درلود او د هغه

وخت په پښتو مجله کې یې ډیر مضامین
خپاره سوي دي په طلوع افغان او کابل



مرحوم حاجی عبدالغفور

مجله کې هم د ده څو ځله لیکلونه، مقالې
او مضامین موندلای سو.

د قلمی همکاری یې حق په خپلو
او په دوسفرو کې هم نه ده دریغ کړی

او د هغو لیرو ملکو څخه به یې د هیواد
جرایدو ته مقالې او چې ترجمې دا یې لی‌
د (پښتو) په مجله کې چې د مشاهیرو د یوه
سلسله خپره سوې ده او دغه رنګه
په طلوع افغان کې ډیر کلونه
د هغه چې د لیکوالو، شاعرانو

او د کندهار د ښېښو علماؤ سوانح
نشر سوې ده، هغه د ده په قلم وه.
پر ته له دغه یې د (پښتو لیک) په

نامه یو کتاب او «سیرة نبوی یې
د پښتې تولنګی د پاده» لیکلی
دی همدا سې د «ترتیب وطنی»

او «مدنیت اسلام» په نامه کتابونه
یې پښتو ته را اړولی دي.

شیخ صاحب په عربی، اردو
او دری ژبو په پوهېدی او استفاده
یې ځنې کول.

د دغه مرحوم په عین حال کې
چې شاعرانه طبع درلوده په
آثارو کې یې هم کله کله ظرافت
لیدلای سو، مثلاً په یوه ځای کې
وایی:

د پوهې څخه چا پوښتنه وکړه
چرا مردار دی ولی خوردې؟
هغه په جواب کې وویل:
صرف په دې وجه چې مشو که
منګولی او تو ډبدن می د ځسی
جوړ سوی دي.

سپی ورته وویل: که څه هم
عذر دې معقول دی لیکن په دی
نو ته خو امه بده وه چې مردار خرد
دی و بولو.

«پاته په ۲۸ مخ کې»

کریمي:

د سرې میاشتې سره مرسته کول په حقیقت کې د ځان سره مرسته کول دي

د سرې میاشتې ارزښت د هغې مؤسسې د خدمت او فعالیت په اساس ارزیابي کېدای شي. د سرې میاشتې

هلال احمر او سره صلیب مؤسسې د هغو عام المنفعه مؤسسو څخه دي چې د بشري نوع د همدردۍ او مرستې

په غرض منځ ته راغلې دي. دا مؤسسې بېله کوم تبعیض او امتیاز څخه د نړۍ په هر کونج کې د مصیبت ځپلو

وه مرستې ته ورډانګي او د هغو لاس نیوی کوي.

د بشري تا آد احیوان د ژوندانه د تلخیو په مقابل کې لکه د اور لګېدل سیلابونو زلزلو پېښېدل، د لوږې

او داسې نورو حادثاتو په وړاندې سره میاشت او دا ډول نورې د خه شان مؤسسې ډېرې ښه روحي تکیه ګاوې بلل کېږي.

کله چې د سرې میاشتې یا سره صلیب د لمانځنې موضوع منځ ته راځي نو د هغه سره سم دا بویه

نامتو بشري شخصیت «هانري دونانت» نوم هم په نیکي سره یادېږي، ځکه د ده شخصیت ځي د سالفرینو د

جګړې شومو او ناوړو فجایعو سخت متأثیره کړی څو پخپله یې د جګړې د میدان د ټپیانو او زخمیانو

په درملنه کې یې له کوم تبعیض پرته واخستل او پخپله شخصي پانګه یې یوه خیریه مؤسسه پرانستله.

هانري دونانت د سالفرینو د جګړې خاطره و لیکل او دا یې یو وار پاملرنه یې د غه ډول خیریه مؤسسو ته

راواړوله څو په دې توګه د طبیعي آفاتو او حوادثو په مقابل کې د مظلومانو لاس نیوی وکړي. په

دې اساس لومړۍ سره میاشت له یو لاړې د جنګ په ترڅ کې فعالیت کوي بلکه د سولې په وخت کې هم عیني

طبیعي پېښې د دې مؤسسې د مرستې ته اړتیا پیدا کوي.

د هانري دونانت د دغه خیریه اقدام چې اوس یې یوه بین المللي بڼه پیدا کړې، ده تقریباً ۱۱۰ کاله

کېږي او په دې کې تر ډېرو ډېرو هېوادونو لکه سره میاشت، سور صلیب، هلال احمر، شیر و خورشید

سرخ او داسې نورو نومو باندې تشکیل موندلی دی، خو د ټولو غایه او هدف د بشري عالم څخه د مصیبت لیرې کول دي.

کله چې هم په افغانستان کې د سرې میاشتې مؤسسه اوږده تاریخچه نه لري خو د دغه مقصد یادونه د اسلام

مقدس دین په پېړیو پېړیو پخوا خپل پیروان د بني نوع د همدردۍ او مصیبت لیرې کولو د پاره رابللي دي. د اسلام مقدس دین چې اساس یې پر بشردوستۍ، رحم او عاطفه باندې بنا دی، د بشري خدمت په لاره کې هیڅ ډول تبعیض نه مني.

د یو ژوندي لو سره مرسته، په مظلومانو باندې شفقت، د بېچاره ؤ سره همدردي، پر مصیبت ځپلو باندې رحم د اسلام ستر هدف دی. د همدې سبب دی چې وایي «د یو انسان د ژوند ساتل تر ټولو عبادتونو غوره عبادت دی».

د افغاني سرې میاشتې هدف هم په پوره توګه پر اساساتو باندې بنا دی. نو د دې مؤسسې سره مرسته کول د هر وطنپرست او نوع پرست شخص وظیفه ده، او دا مرسته کول په حقیقت کې د خپل ځان سره مرسته کول دي ځکه که په ټولنه کې یو ګروپ اشخاص د مصیبت سره لاس او ګرېوان کېږي نو ټول اجتماع په هغه مصیبت کې ورسره شریک بلل کېږي. په دې اساس نو داسې چې د دغې خیریه مؤسسې سره د اسلامي او افغاني عالي غایې په اساس د هیڅ ډول مرستې څخه ډډه و نه کړو او هم دا مؤسسه د هېواد د ملي لوی زعیم ښاغلي محمد داود په رهبري او رهنمایي بشریت ته د خدمت کولو په لاره کې خپل مقدس هدف ته په ښه توګه سر ته ورسوي.

پښتو کوونکی حبیب:

روحی ناآرامی، دهغی سببونه او ددرملنی لاری چاری

(دوهمه برخه)

په‌ډیرلاږ کې څه کولای شم؟ د کار د اجرا تصمیم، د هغو کارو شروع او ختمول.

۷- برنارډشاو انګلیسی مشهور پوهاند وائی:

بیکاری بربادی ده یعنی «د بدبختی علت د هغه ډیر وخت درلودل دی چې موږ ئی د ځان د خوشبختیدو د پاره لرو».

۸- په یادولو د هغه کوچنی شیان چې ستاسی ژوند په ناقصه کیږی او د ډیر بدو قابلیت ولری

خپل ژوند مه ناقصه کوی خو هغه شیان هیر کړی او دا موږ په یادوی چې ژوند ساده او کوچنی تر هغه دی چې موږ ئی بولو.

۹- د هر مشکل اطراف په دقت مطالعه کړی او بیا د اعتدال د قانون سره سم د هغه

پوښتنه وکړی چې په سل کی څو امکان لری چې دا خطر واقع را ورسیږی.

۱۰- د هغه ترډی چې د دانی ناروغی مو د مینځه یوسی باید د ویلیم جیمس مشهور فیلسوف

دا مقوله مطالعه او تطبیق کړی «حوادث لکه چې واقع کیږی هغسی قبول کړی او دا پخپله د کامیابی ته

لومړی ګام دی» میلټون نامتو عالم هم په دې عقیده دی او وائی «بدبختی دا نه ده چې سړی ړوند وی بلکه بدبختی دا ده چې سړی ونه کړای شوای ړوندوالی تحمل کړی»

۱۱- د «ازکار» د کرپسلر د مشهور شرکت د رئیس څخه چا پوښتنه وکړه د نګرانی د رفع کولو د پاره

څه کوی؟ ده وویل چې د مشکلاتو سره د مخامخ کیدو په صورت کې که مې څه د لاسه ورنه سی هغه هیروم. دی که څه هم

فیلسوف نه و خو د نګرانی د ډیر یادونکی ناروغی څخه د خلاصون د پاره ئی د روم مشهور نابغه «پیکتتوس» یوه مقوله د خپل ژوند تګ لاره ګرځولی وه. پیکتتوس به خپلو شاګردانو ته ویل «د خوښ ژوند د پیدا کیدو د پاره فقط یوه لاره سته او هغه د هغو څو اشاتو هیرول دی چې زموږ تر وس تیر او تر قدرت مو لوړ وی» د دې خبری که څه هم تر (۲۶۰۰) کاله ډیر

کیږی خو تر اوسه ئی هم خپل ارزښت په ساتلی دی.

۱۲- بیګا په ملی عملی مه کوی چې د لږی براده بیا هم ارزه کړی د هغه تیرو خاطراتو

په تکرار او صفی خوښ ژوند مه تریخوی»

۱۳- خوشبختی تنها په پیسو نه

برابریږی او جاه و جلال یوازی نسی کولای چې سړی خوشبخته کړی بلکه د خلکو د فکر کولو په

ډول پوری اړه لری لکه چې ډیر یو حالت ته هیڅوک خلک خوشبختی وائی او شپه او ورځ

کوښښ کوی چې هغه حالت ته ورسیږی خو هیڅ خلک د هغه حالت څخه شکایت کوی نو که ددوهمی

ډلی خلکو د فکر کولو ډول هم د لومړی ډلی په شان سی طبعاً د خپل حال او ژوندانه خوشحاله دی

او که لومړی ډله خلک لی نور هم چه فکر وکړی طبعاً به خپل لومړی حالت څه او خوښ بولی.

«جان بردون» چې د بریدګانو د ټریک په تور انقلاب ته تورن سوی ژ هغه وخت چې ئی د محبس څخه

د دار میدان ته بیوی بود د هغه محافظ نفر ډیر غمجن وه خو ده د لاری په اوږدو کې غزلی ویلی او د سلسلی او ویر جنیا نظاره ئی کول

اوویله ئې چې ما تر اوسه دا موقع نه ده پیدا کړې چې دا ښایسته منطقه د دوئ خوشحالۍ سره وویښم (مونتسکیو) فرانسوی فیلسوف وائي «خلک ښځه د حوادثو څخه د غرندی نه په عذابیږي لکه د هغو په باره کې د فکر کولو څخه چې په عذابیږي.

۱۴- هغه خوږ والی چې په عفوه کې ستهٔ په انتقام کې نشته که ځان پرېښتان تاسې تحقیر کړي تنها د هغو سره قطع رابطه وکړئ او د هیڅ اخیستلو فکر په ځان کې مه روزئ ځکه چې دا فکر تر دښمن ستاسي ښه پل نقص تمامیږي دا دیوه ایډیالسي نظریه نه ده چې په محافظه کاري تلقي سي بلکه دیوه مشهور مټریالیست د خولې څخه دی. شکسپیر وائي «خپلو دښمنانو ته کوره د غوندې مه تودوی هسې چې د تودوخې څخه ئې ځان هم په عذاب کړې». د تور پوستانو یو مشهور لارښود ننکی هم وائي «زه هیڅکله د جنګ او کینې د بساره وخت نه لرم او هیڅ یو ماد و نه سو ای قبولای چې د هغه په نسبت زه په خپل زړه کې کینه وساتم».

۱۵- داور د حق پېژندلې څخه مه مایوسه کېږې لوی «رندوارد کارنجي» د خپلو تورو خبرو په مرستو په لږ کې یو وخت خپل یوه دوست ته یو ملیون ډالره وبخښل خو هغه په بیا هم د ده بد ویل خوښ دي په خبرو بیا به ئې هم حساب نه خرابول او خپلې مرستې به ئې د هغه څخه نه سپمولې. حق پقول ادس وبشر ته یو طبیعي امر ګرځېدلی دی نو د حق ادا کیدو انتظار علاوه پر روحي ناقرارۍ دزړه د مرېضۍ لوی عامل هم دی ارسطو وائي «د میني ایثار ول ونورو ته د لوی والی نه په دغو د هغې دا ډېر انتظار او غوښتنه قبولې دي»

که موږ دخوا له ژوند غوښتونکي یو باید د هغه د برابرېدو د پاره د اطرافیانو سره ښه وکړو نه د هغو د نتیجې د پاره.

۱۶- هغه څه چې لرئ په ارزښت ئې هم ځان پوه کړئ. ددې پرځای چې زحمتونه او شمیرئ خپل ځان د خپلو نعمتو په حساب ولو تل خوښ وساتئ.

انزلو پارتي وائي: تر هغه بد بخته انسان هیڅ نشته چې خپل ځان تل داسې جوړ کړي چې روحاً او جسماً ابداً هغسي نه وي. د نورو پیښې مه کوئ خپل ځانونه وپېژنئ.

۱۷- تل د ژوند مثبت اړخ مطالعه کوه او مشکلاتو ته خاند. زردشت وائي: خلکو ته خدمت کول او ګټه رسول وظیفه نه ده بلکه هغه لذت دی چې زموږ شخصي سلامتي او خوښي دا پوره کوي. انسان د عالم د اسرار د درک د پاره نه دی پیدا سوی بلکه په هغه کې د ژوند کولو د پاره پیدا سوی دی.

۱۸- د علمي روانشناسي پلار ویلیم جیمس وخپل انځیوال پروفیسر ډاروین ته لیکي:

«هر څوک چې ډیر عمر را باندې تیریږي لږ کولای سم چې پرته د کوم خارجي علت ځان ژوندی وبولم» بلی اوس روانشناسي د تشویش څخه د خلاصېدو د پاره امر کوي چې (مذهب ته ستنېدل) نومي کتاب چې د «دکتور هنري لنګ» اثر دی واولی په رښتیا هم مذهب یو امید بښونکي فعالیت دی اروحي نا ارامی تر هر شي ښه تر ارفع کولای سی حضرت مسیح (ع) وائي «زه دنیا ته راغلم تر څو چې تاسې خوږ ژوند وکړئ او ژوند په اصلي معنی پوه سئ» هغه بو انقلابي پیشوا ؤ چې قول پیښا یه رسوم ئې غندل او ویل به ئې «مذهب د خلکو د پاره دی نه خلک د مذهب د پاره».

۱۹- داور د بېګایه او شو موقضاوتو څخه مه ناارامه کېږئ مشو پنهاور ویلی دی «ښه خلک د ښو اشخاصو دا شتباهاتو څخه لذت اخلي» بلی همداسي ده او بدو خلکو ته د ښو خلکو په باره کې بد قضاوت د خوښي منبع ده. توماس جفرسون د امریکا د خپلواکي دا علامیه لیکونکي چې د خپل وخت د مهمو ملي شخصیتو څخه ؤ جرایدو به د هغه کاریکاتورونه په داسې حال کې چې د ګیوتن د د بوال سر، به تیریده لیکل او هغه به یو د ریا کار عوام فریب، جانو او بدنامه معرفي کاوه.

همدارنګه د امریکا د یموکراسي ساتندوی او هغه پاکترین انسان چې تر اوسه د امریکا تاریخ لیدلی دی کله چې رئیس جمهور سو د «یل» د پوهنتون رئیس د هغه په بدنامي خوښیدی او ویل به ئې: چې زرتر زره به د امریکا ښځې او نجونې بې عفته

فاحشې او بې ډېنه کېږي .
دامریکا د تاریخ داصلي بچي

«جارج واشنګټن» ژوند پایې وویل
سي چې دا کارونه پر دغه سوي دي

او اوس د خلکو اخلاق سم سوي دي
خو داسې نه ده ، او فقط څو عمر د غه

کله چې «پیري» لوی کاشف د هغه
قایق په واسطه چې سپي کشول

ځان و جنوبي قطب ته ورساوه چې
تر هغه وخته پورې او یو کاشفینو
په دې لار کې ځان د لاسه ورکړی و

خو ددې لوی خدمت سره سره کله
چې مرکز ته راغی ترده ، لوړو
افسرانو به ویل ځه ، ځوله پېسې

غلا کړې او که د رئیس جمهور
تشویق خط نه وای ورر سیدلای

حتماً ولاړی ځه ، راګرځېده » او
داسې نور پرو پاګنډو ته پسې کېده .

۲۰ – یوهم پر تشویش باندې
د غلبې دلاډو ځه ، خوب او
استراحت دی . دعمومي جنګ

په وخت کې چې چرچل صدر اعظم
ژنو ځه به په یوه شپه او ورځ کې
شپاړس ساعته کار کاوه او د خپلې

امپراطورۍ امور به ئې په ښه
ډول اجرا کول ، مهم کنفرانسونه
به ئې جوړول او پر ځای سیاسی

لارښودنې به ئې کولې ، دی که څه
هم او پاکلن ژ خو نګرانی او
تشویش دده په ژوند کې لار نه

درلوده ، دا ځکه چې دی به یوساعت
ترغرمې وروسته او دوه ساعته
ترماز پښگر وروسته بیده بده او بیا

به تر نیمو شپو په کار اخته و .
کفلر هم چې په دنیا کې ئې
د دوشیانو ریکارډ ماتی کړی دی
یوه بېشماره ثروت او بل دونه
ثروت سره سره د ۹۸ کاله عمر ،
علت ئې دا دی چې هره ورځ به

نیم ساعت بیده بدی او په دغه وخت
کې چې د رئیس جمهور خوښتی وای
هم نه ور تللی .
کله چې مې دالینو ردوژ پلټ
دخانم څخه پوښتنه وکړه چې
د ۱۲۲ کالو هستو ګنې په موده کې

چې په سپینه ماڼۍ کې وې څنګه
دغه های دغسې پروګرامو په
اجرا کې کامیابه کیدې په جواب

کې ئې وویل : د پروګرام تر اجرا
دمخه به د شلو دقیقو د پاره پر چوکۍ
کښېنستم او سترګې به مې پټولې
او استراحت به مې کاوه .

دا چې یسون د کامیابۍ او عجیب
استقامت علت هم دغه و چې هر وخت
چې به ئې زړه وغوښتل بیده به .

د هاري فورډ سره ئې مرکې
تر ۸۰ کلنۍ په تماس کې سوم او
څنۍ وهې پوښتل چې دځوان پاته

کیدو علت دی څه دی را ته ئې وویل
«زه هرګز په هغه ځای کې چې
ولاړ ای سم کښېنم نه دی یم

او په هغه ځای کې چې ولاړ ای سم
پر یوځم نه کښېنم .
۲۱ – په شغل او مسلک انتخاب
کې ی نه د پلار ، مور ، دوست او
رفیق په خوله اوته د عاید د پاره
بلکه د خپل فکر او ذوق دارامی
د پاره .

د (۲۴مخ پاتې)

یوه ادبي

ضایعه...

دشیخ صاحب مضامین ټول د نثر
په شکل دي او منظوم اثر ئې تراوسه
نه دی لیدل سوی :

دا ئې د دغه خدای (ج) بخښلي
یوه ادبي ټوټه د لته را نقلوو .

د شکوفې وداع .

زه به هیڅکله ستا دوداع ساعت
هیر نکړم او تل به ئې یادوم . ولی
چې ستا دوداع ساعت نه دا د ښکولې
د حرمان یاد دی ، بلکه د ګلو د باران
یاد دی .

هغه ساعت به هیر نه کړم چې ښکلا دی
له سپینې لباسه وته او پخپل شنه لباس کې
لو پده .

ستا وړاندوما ته د هغه ژوند سبق دی
چې په شرف سره شروع سي او په شرف
پشیږ سي .

هر کله بیا په خوښۍ او شرف
راسي .

اې دژوند دموسم فاتحې !
چې خوږیده دې خندا وه او رژیده
دې ښکلا .

د(۲۱مخ پاته)

که غواړې چي خپل هدف ته...

دهغو سره مرسته کولای سي، په دوستۍ او همکاري باندي ئې لاس پوري او خدمت کولو ته ئې ملاوتړئ.

دغه رنګه په نظر کي ولرئ چي تاسي ته باید دخارجي عواملو او حوادثو په مقابل کي د بې روحه مجسمي په شان ودرېږئ او هم ستاسي دفکر طرز داسي باید نه وي چي ووایاست څه وکړو.

حالات دغسي دي زموږ دلاسه څه کېږي؟ بلکه برعکس دهغو کسانو په شان چي په خپله دحالاتو هرکنډو ټکي او اقدامات ئې دزمان او مکان په ایجادولو کي موثر دي، اقدام وکړئ.

هو! تاسي او هم دژوند اته دوه اندي ټکټ او بریالیتوب لاره تنګوي، خو تاسي دسختیو په مقابل کي مه ماتېږئ بلکه عبرت واخلئ چي دهغو په مقابل کي د نورو مقصدونو د سرته رسیدلو دپاره، په څو چنده قوت سره ودرېږئ د خپل شخصیت او دژوند دمسایلو دمشکلاتو دحل په باب چي کوم روش اختیار او په کار اچوئ، باید ځان ته

دقیق سر څو خپلي ضعیفي خواوي او الځونه صادقانه تشخیص او په ډېر شهامت او صداقت سره ئې په رفع کولو ره کوښښ وکړئ.

هو! ډول ډول، ډار، اضطراب او ناامیدي دمقصد دسر منزل رسیدلو دپاره خنډونه او موانع دي خو موږ بیا کولای شو ادراک کړو، چي د روحي تکلیفو او نفساني رانځونو له سختیو څخه څه ډول خلاصیدلای سو.

هرڅنګه چي هر څوک په ژوند کي د هدف درسیدلو په لار کي دموفقیت او یاآس هیلو او دمسابقي سره شباهت لري، یعني هر څوک غواړي چي د ژوند دمسابقي ډګر ته حاضرشو، .. او په دې صورت لازمه ده چي تر هرڅه دمخه باید د خپلو اعضاو (غړو) جوړښت او ترکیب بشپړه ملاحظه او چي دتاواني ځایو خرابۍ ئې ترمیم کړه شي، بیا او هغه وخت دي چي په پوره اطمینان او پوره زړه سره دمسابقي پرمیدان کښېښو دو، څو چي په دې صورت موبریالیتوب په نصیب شو.

آزادي

!

آزادي دې ته نه ویل کېږي چي د هرسړي زړه هرڅه وغواړي هغه وکړي بلکه حقیقي آزادي دې ته وائي چي هرسړي مجبور او مکلف دی چي خپلي وظیفي په صادقانه ډول سرته ورسوي.

«توماس جفرسن»

انسان ازاد پیدا سوی مګر په هرځای کي په ځنځیر کي دی.

(ژان ژاک روسو)

هغه څوک چي دځان ساتلو دخپلواکۍ په ساتلو مقدم و شمېري، دخپلواکۍ لیاقت نلري...

«فرانکلن»

کله چي دخپلواکۍ نیالګی شین سي ډېر ژر لوئېږي.

انسان چي هرکله نیت وکړي چي آزادي شي آزادېږي.

«ولټر»

خپلواکي ډېر لوی عطاده چي انسان ته ور کړه سوې ده، دده په مقابل کي نور ټول احسانونه، او بخښښونه بې معني دي.

«پکتیتوس»

خپلواکي په پوره اندازه پوري اړه نه لري بلکه دټولو مال دی.

«هربرت سپنسر»

«د ۱۸۵ مخ پاته»

په هندوستان کښې دمغولی...

کښې ته چول څه وخت چې پیر روښان دخپل تربور شیخ اسماعیل لاس نیوی وکی او پلار ئې ورته وویل چې خبردار چې دشیخ اسماعیل

لاس نیوی ونه کې ی هغه زما څخه په علم او هر څه کښې کم دی او د هغه پرځای دشیخ بهاوالدین زکریا ملتانی لاس نیوی وکه.

مگر بیا هم پیر روښان خاموش پاته نه سو شپه او ورځ به ئی ریاضت کاوه. خوب، خوراک ئی کم کی او دلوی خدای (ج) په عبادت ئی

گوتی پوری کړ ی او پنځه کاله ئی په یوه کوټه کښې تیر کړه چې په دغه وخت کښې یې صراط التوحید لیکلی دی روښان ته دپښتنو طبع

ښه تر امعلومه وه او هم دلودیانو دناکامی او کامیابی علتونه ئی په پوره توګه څیړلی وه دبهلی خوانی په ځمدغه محیط کښې د

دلودیانو، سوریانو، دحکومتو کیسې او نقلونه او دهغو په وخت کښې دپښتنو قدرت او منزلت ورا پلټونه هم اوریدلی وه او هم

دابراهیم لودی او سوری شیرشاه دناکامیو په علتونو پوره پوه ؤ او دسلطان بهلول او سوری شیرشاه دانتکاروتو کیسې ئی اوریدلی وې او هم یې دمغلو هر ډول ظلم ته بې عدالتۍ په سترګو لیدلی

چې دپښتنو سره یې کړې او کولی. روښان دمغلو د ظلمو نو په لړ کښې یو حیرت انگیز واقعه لیدلی ده هغه په کند هار کښې دزړندی په پله پوری دیوی معصومې پښتنې پیغلې په کوڅیو ټپ لی وه چې د زړندی دپله د څرخیدو سره به دې هم څرخیدلې او تر خوله به یې سرخنده چغې ختلې او دوی به خوند تری اخستی.

دغو شرایطو دی سخت متأثره کی او ئې دمغلو په مقابل کښې داسې پلان طرحه کی چې مغلو دخپلوتو لو دقیقو نقشو او حتی عسکری مقاومتو سره سره داملی نهضت خاموشه نه کې او نه یې یو گړ ی آرام هم نه وکی.

ددغه پښتنی روښانی نهضت ترټولو سخت مخالف اخوند درویزه ؤ اخوند درویزه دسید علی ترمیزی شاگرد ؤ.

درویزه اصلا د ننگرهار ؤ مگر د یوسفزیو سره د کوچ په وخت کښې د پیښور سیمو ته راغلی او ورو ورو ئی په سوات کښې ځای ونیوی.

دروښانی نهضت داخلی تشکیل په باره کښې لاتراوسه معلومات چیر لیږدی داسلانوف د تحقیقاتو له مخې داسې څرگندیږی چې د ۱٦۵ پیری په دوهمه نیمایی کښې او د ۱۷ پیری په اوایلو کښې دپښتنو ولسی نهضت چې د روښانیانو دخوا څخه رهبری کیدی اجتماعی بڼه ئی دراوده دغه نهضت ضد فیوډالی جریان ؤ ددې نهضت پیروانو دخانانو په مقابل کښې او دهغو د

امتیازاتو د له منځه وړ لو له پاره سخته مبارزه کوله دغه پښتنی مسلحه مبارزه په خپل د پیر روښان له خوا او دده تر لارښوونی لاندی شروع سوه او دوی وند ترپایه ئی پرمخ بوتله څو په ۹۸۰ھ=۲۱۵۷۲ کښې دې وفات سو دده تر وفات وروسته ددغه پښتنی ملی نهضت رهبری دده زامنو او لمسیانو په لاس کښې واخستل.

کوم وخت چې دده زامنو ددی نهضت برچم پخپل لاس کښې ونیوی نو په دې وخت کښې د یوسفزو سره په سخت جنگ اخته سول یې په دې جنگ کښې د یوسفزو قواوی د حمزه تر قوماندانی او دروښانیانو قواوی د پیر روښان د هلوزو زامنو شیخ عمر، خیرالدین، نورالدین او جلال الدین تر مشری لاندی وی په دې جنگ کښې روښانیانو سخت شکست وخوړ ی شیخ عمر، خیرالدین او نورالدین مړه سول مگر جلال الدین چې سخت زخمی سوی ؤ ددې دپاره چې ددښمن د تعقیب څخه خپل ځان خلاص کړ ی توسند ته ئی ځان ورغوځاوه لاکن بیا هم د یوسفزیو په لاس ورغلی او لاس تړلی ئی دمغلو پاچا اکبر ته ورو ستې اکبر د جلال الدین سره ډیر ښه وضعیت وکی او د بندی خانی څخه ئی آزاد کی.

(نور بیا)

(ادامه پاته)

دافغانستان دجمهوري دولت درئیس ...

په بنیادو زړه دي به خوراښه مخ په زیاتیدونکي ډول زموږ ترمنځ په ټول ګران هیواد کي پیاوړ ی شي.

که سره میاشت وي او که سور صلیب او که هلال احمر له دغه ډول تاسیساتو او سازمانونو دمنځ ته راتګ منظور د انساني نوع د کړیدلي طبقي او د مصیبت ځپلو سره مرسته او لاس نیوی دی.

هر څومره چي ددی ډ ډی یی عمر زیاتیږي په هره اندازه چي انسان دمعاصر ساینس او ټکنالوژ ی په برخه کي پرمختګ کوي او په خپلو مشکلاتو باندي بري مومي بیا هم په ډیرو نورو برخو کي د آفاتو او پیښو په مقابل کي اسکبرلی او بیچاره پاته کیږي.

دمحتاجو همنوعانو او بی وزلو وطنوالو لاس نیوی چي په دغه ډول آناتو اخته کیږي یوا ځي

دا نه چي په ملي سویه بلکه په جهاني سویه داجتماعي ډیرو لوړو احساساتو ښکارندوی دی.

په هغې ای یه کي چي اوس هم دجهان غوښتني توبیر او تفرقي اچونو حس دنوع پرستي یووالي او لړ دي والي په حس باندي غلبه لري او دنړ ی په دهیوادونو اپاره ګ اجتماعي ناقراري پیدا کړیده

دلیدو وړ پرمختیاوي او هغه کي تمدن چي د ټولو انسانانو میراث دی په خطر او نیستي سره تهدیدوي.

دسري میاشتي، سرو صلیبونو او هلال احمرو او دمرستي لاس دی چي د مصیبت ځپلو مرستي ته رسیږي او مرته یو د راتللونکي نیکمرغه وخت او دبشري تمدن د تکامل لوري ته هیله منده کوي.

زه پوره یقین لرم چي زموږ ګران وطنوال په عموماً او د افغاني سري میاشتي کار کوونکي خصوصاً دانساني وظیفو په سرته رسولو کي د برخې اخستلو او دخپلي همنوعي سره دمرستي په احساس په راتللونکو کلونو کي زیات بریالیتوبونه ترلاسه کړی او دبشری سترې ټولنې دخدمتګاران او په حیث او دصلیب، هلال او د نړ ی دشیر خورشید سرخ د اتحادیي د یوه غړ ی په حیث لکه څنګه چي ددوی دانساني باارزښته مقام سره ښا ی خپلي سپېڅلي وظیفي سرته ورسوي.

زموږ هیله دا ده چي زموږ دهیواد ټولي خوندي او د بدو ئه چي دهیواد په هر کوټ او کونج کي وی که ددی هغتي په اوږدو کي وي او که دهغه وروسته هر څومره چي وس د لری او په هره وسیله چي کیږي له افغاني سري میاشتي سره په له مادي او معنوي مرستي نه په ځان ونه ژغوري ځکه د پرنسیپ له مخه نشي کیدای چي یو فرد او یا یوه اداره په یواځي توګه د یوي ټولني د ټولو بدمرغیو فقر، بی وزلي او بي سوادي مسئوله وګڼله شي بلکه د دغو بدمرغیو، فقر، بی سوادي او ناداروغیو مسئول ټول هغه وګڼل کیږي دي چي

په دغه هیواد کي ژوند کوي او دغه ملي لوی مسئولیت هغه وخت ترسره کیږي چي ددغي ټولني وګړي

په پوره او ښه ډ نه دغه استعداد او یادمادي او معنوی وس سره م

چي لري یې ددي ملي او بین المللي

مرکز له لاری دخپلي ټولني دبی وزلو او محتاجانو لاس نیوی وکړ ی، او دیلا ی سو چي دملګرو

په ټنګ ژوندانه او حیات کي د بیرته پاتي او یادوی په حال کي ټولنو د پرمختګ او ترقي یوا ځ

لاره داده چي ددغي له خوا او سره

هر اړخیزه همکاري، همدردي او

مرستي وشي

په پای کي دلوی خدای «ج» له دربار ه هیله کوم چي زموږ

ګرانو هیوادوالو ته پر دي وړ کیږي

چي د بی وزلو لاس نیوي دسري

میاشتي دبشري او جهاني لوړو

مقاصدو لاس ته راوړلو او دهغي

دنوع پالني دوظیفو د ترسره کولو

په لاره کي چي دهیواد د هر وګړي

د اسلامي او افغاني خوی او خصلت ده

د بی وزلو د خدمت په لاره کي دغه

ټولنه بریالي او کامیابه کړي



دغه ودانۍ د میلمه والو یوه عمومي تفریحګاه ده چې د پله په باغ کې واقع ده. د پله باغ
یا باغ پل د خپلې طبیعي ښکلا له امله د هر چا پاملرنه ځان ته اړولې ده. خو متأسفانه
لیدل کیږي چې د دغه ښکلي ځای درختې په بې رحمۍ سره قطع کیږي او ورځ په ورځ خپله
ښکلا له لاسه ورکوي. په دغه هکله د مربوطو مقاماتو توجه غواړو.

د کندهار دولتي مطبعه